# اهـل تـرجـیـح څـوک دي؟

شېخ محمد نعیم جلیلي

نـن سبا فتوی او ترجیـح یـوه داسـې پدیـده ګرځېدلې، چـې کـه چـا دوه ټکـي هـم ویلـي وي او یـا پـه کومـه مدرسـه، پوهنتـون او یـا معهـد کـې یـې کـوم کال تېـر کـړی وي، سمدلاسـه ځـان تـه دا حـق ورکوي، چـې د امامانـو تـر منـځ د حکـم، ترجیـح ورکوونکـي او فیصلـه کوونکـي پـه توګـه راڅرګنـد شـي او پـه ډېـره بـې باکـه توګـه دغـه ډګـر تـه ورننـوزي، د دغـه جرئت،کـم علمـۍ او سـطحیت نتیجـه همـدا اوس هغـه نظریـات او ډلـې ټپلـې دي، چـې د مسـلمان پـه تکفیـر او وینـه تویولـو کـې هېـڅ ډول ځنـډ نـه کـوي.

د دې جرئـت ځانګـړي اسباب دا دي، چـې مـوږ هـر چـا تـه د قـرآن او سـنتو د اتبـاع او پیـروۍ پـه نامـه دا حـق ورکـړو چـې دوه ټکـي زده کـړي او پـه خپلـه له قـرآن او سـنتو د احکامو د راویسـتلو چـارې پیـل کـړي، او یـا هـم د قـرآن او سـنتو لـه نصوصـو خپـل فهـم تـه قـرآن او سـنت ووایـو او پـه دې نامـه خلکـو تـه دا وښـیو چـې کـه څـوک راسـره دا فهـم نـه منـي، هغـه لـه قـرآن او سـنتو بهـر ، ضـال او مضـل دی، او یـا ورتـه دا ووایـو چـې مـوږ د سـلفو پیـروان یـو او لکـه څرنګـه چـې زمـوږ سـلفو لـه قـرآن او سـنت سـره تعامـل کـړی همغسـې تعامـل مـوږ هـم ورسـره وکـړو، پـه داسـې حـال کـې چـې زمـوږ سـلف پـه دوو ډلـو وېشـل کېـږي یـوه ډلـه هغـه ده چـې مـوږ تـه یـې اوس نـوم او نښـان پاتـې دی او پـه علمـي مراجعـو کـې یـې نومونـه ثبـت دي، چـې دغـه ډلـه خـو اغلبـاً مجتهدیـن، امامـان او سـتر علمـاء دي ،هغـه یـا صحابـه دي چـې د قـرآن نـزول یـې پـه خپلـو سـترګو لیدلـی او لـه سـنتو سـره یـې ژونـد کـړی او یـا هـم هغـه سـتر تابعیـن دی، چـې لـه صحابـوو سـره اوسـېدلي ، نـو آیـا زه د هغـو مرتبـې تـه رسـېدلی یـم ؟ چـې لـه قـرآن او سـنتو سـره هغـه تعامـل وکـړم چـې هغـو کـړی او پـه سـلفو کـې بلـه ډلـه هغـه ده، چـې نومونـه یـې پاتـې نـه دي آو یـا پـه بـل تعبیـر عـوام دي، نـو آیـا د هغـوی تعامـل همداسـې و چـې هـر چـا بـه ځـان تـه مجتهـد ویـل او هرچـا بـه مسـتقیماً او نیـغ پـه نیغـه لـه قـرآن او سـنتو احـکام راخیسـتل؟ او بیـا د هغـوی د تعامـل تفصیـلات لـه کومـه ځایـه معلـوم شـول؟

بلـه سـتونزه بیـا پـه پوهنتونـو او اکاډیمیکـو چاپېریالونـو کـې ده، دلتـه هـم کـه یـو محصـل چـې بیچـاره د عربـي عبـارت نـه شـي لوسـتلی، یـو بحـث لیکـي یـا خبـره کـوي ، ورتـه ویـل کېـږي چـې د تحقیـق پـه معاصـرو میتودونـو کـې دا شـرط دی، چـې باحـث بایـد خپـل شـخصیت پـه بحـث کـې راڅرګنـد کـړي او تـه مکلـف یـې چـې دلتـه ترجیـح وکـړې او حتـی د ترجیـح دلایـل ذکـر کـړې.

کاشـکې دغـه ترجیحـات خـو پـه یـوه داسـې مسـئله کـې وي چـې هـر صاحـب نظـر پـه کـې خبـره کولـی شـوه ، کومـه اجتماعـي سـتونزه وي، کـوم اقتصـادي فعالیـت وي او یـا کومـه تجربـوي قضیـه وي، لـه محصـل او طالبـه پـه هغـو مسـائلو کـې د نظـر او ترجیـح غوښـتنه کېـږي چـې هلتـه د اسـلامي فقهـې امامانـو هـر څـه حلاجـي کـړي دي، هغـو امامانـو چـې د هغـوی د علـم ، اسـتعدادونو او حتـی د تقـوی او پرهېـزګارۍ پـه اړه امـت اجمـاع کـړې ده.

کلـه ناکلـه ځینـې اسـتاذان او یـا مدرسـین هـم د یـو کتـاب شـرحه ولولـي او هماغـه شـرحه کـې چې څـه لیکلـي وي، لکـه د طوطي پـه شـان یـې تکـراروي او د هماغـې پـر اسـاس وایـي چـې دا نظـر راجـح او دا مرجـوح دی، دا پـه داسـې حـال کـې ده، چـې د ده د ترجیـح ټولـه هڅـه د همدغـه یـو کتـاب لوسـتل دي، دا چـې پـر هغـې هـم پـوه شـوی او کـه نـه؟ دا جـلا خبـره ده .

لـه دې املـه مـو وغوښـتل چـې مـوږ دا وپېژنـو چـې ترجیـح څـه تـه وایـي؟ او آیـا ترجیـح د هـر چـا کار دی؟ آیـا د امامانـو ترمنـځ ریفـري ګـري داسـې اسـانه کار دی، چـې هـر څـوک د لوبـې میـدان تـه ورګـډ شـي او د امامانـو فولونـه نیسـي؟

دا قضیـه ډېـره سـتره ده ، دلتـه شـروط دي، دلتـه قواعـد دي، دلتـه د هرچـا ځـای او کار معلـوم دی.

پـه سـر کـې بـه ترجیـح وپېژنـو او بیـا بـه یـوازې هغـه شـرطونه ذکـر کـړو چـې ترجیـح کوونکـي پـرې ملـزم دی. د ترجیـح قواعـد او اصـول پـه خپلـه یـوه ځانګـړې اوږده موضـوع ده، چـې دغـه لنـډه لیکنـه یـې حوصلـه نـه لـري.

**د ترجیح تعریف:**

ترجیـح دې تـه وایـي چـې یـو مجتهـد پـه قـوت کـې د دوو ورتـه او متعارضـو دلایلـو ترمنـځ د یـو دلیـل قـوت راڅرګنـد کـړي، پـه داسـې توګـه چـې پـه ځانګـړې توګـه هغـه حجـت نـه وي.

پـه بـل عبـارت، ترجیـح دې تـه وایـي چـې یـو مجتهـد د دوو ظنـي متعارضـو دلایلـو تـر منـځ یـو مخکـې کـړي تـر څـو عمـل پـرې وشـي

د پورتنیـو تعریفونـو څرګنـده شـوه چـې ترجیـح پـه هغـو دلایلـو کـې ممکنـه ده چـې ظنـي وي او دواړه دلایـل سـره د مجتهـد پـه ذهـن کـې تعـارض ولـري ، اګـر کـه پـه نفـس الامـر او واقـع کـې یـې هېـڅ تعـارض نـه وي او لـه بلـه پلـوه دغـه ترجیـح بـه یـو مجتهـد کـوي.

**ترجیح درې ارکان لري:**

**لومړی رکن : ترجیح ورکوونکی :**

دا هغـه څـوک دی، چـې د عقلـي یـا نقلـي دلایلـو تـر منـځ د یـو دلیـل قـوت راڅرګنـدوي چـې د علمـاوو پـه نېـز دا یـوازې مجتهد کېـدای شـي او علمـاوو پـه دې اړه ځانګـړي شـروط بیـان کـړي چـې لـه مخـې یـې یـو عالـم او فقیـه د اجتهـاد اهلیـت او وړتیـا پیـدا کـوي او بیـا پـه مسـائلو او دلائلـو کـې د ترجیـح حـق لـري، چـې پـه لانـدې توګـه ورتـه اشـاره کـوو:

**لومړی شرط:**

ترجیـح ورکوونکـی بایـد د کتـاب اللـه او سـنتو پـه نصوصـو پـه اړه کافـي علـم ولـري کـه چېـرې پـه یـو کـې هـم تقصیـر او یـا ضعـف ولـري هغـه مجتهـد او ترجیـح ورکوونکـی نـه شـي کېـدای او ده تـه بیـا ترجیـح او اجتهـاد جائـز نـه دي. پـه نصوصـو بانـدې د علـم او یادولـو معنـی دا ده چـې کلـه هـم وغـواړي د دغـو نصوصـو ځایونـه ورتـه یـاد وي او کلـه هـم چـې د هغـو اسـتحضار کـوي، هغـه وریادېـږي.

البتـه پـه دې اړه بیـا د علمـاوو دوه نظـره دي، چـې آیـا پـه ټولـو آیتونـو او ټولـو احادیثـو بشـپړ عبـور او علـم ولـري او کـه یـوازې د احکامـو اړونـد پـه آیتونـو او احادیثـو پـوه وي، چـې یـو شـمېر علمـاء یـوازې د احکامـو اړونـد آیتونـه او احادیـث شـرط ګڼـي چـې امـام غزالـي دغـه آیتونـه پنځـه سـوه او احادیـث درې زره ښـیي ، او بلـه ډلـه علمـاء وایـي چـې دغـه نصـوص پـه دغـو شـمېرو کـې منحصـر نـه دي، بلکـې دا د اذهانـو او اسـتعدادونو پـورې تړلـې خبـره ده ، کېـدای شـي یـو مجتهـد لـه یـوې کیسـې هـم یـو حکـم اسـتنباط کـړي.

**دوهم شرط:**

ترجیـح ورکوونکـی بایـد د اجمـاع پـر مسـائلو پـوه وي، ترڅـو د اجمـاع پـر خـلاف فتـوی ورنـه کـړي او یـا هغـه څـه تـه ترجیـح ورنـه کـړي چـې پـه مقابـل کـې یـې اجمـاع موجـوده وي.

امـام زرکشـي پـه البحـر المحیـط کـې، د دغـه شـرط ګټـه دا ښـیي چـې دغـه مجتهـد پـه خپلـه داسـې وینـا ونـه کـړي چـې پـه دې سـره لـه اجمـاع څخـه ووځـي .

**دریم شرط:**

مجتهـد او ترجیـح ورکوونکـی بایـد د عربـي ژبـې پـه لغـوي، نحـوي ، صرفـي او بلاغـي قواعـدو پـوه وي ، ترڅـو پـه دې قـادر شـي چـې قـرآن او سـنتو د نصوصـو سـم تفسـیر وکـړای شـي، او پـه نصوصـو کـې عـام او خـاص، مقیـد او مطلـق ، حقیقـت او مجـاز، ظاهـر او مجمـل او داسـې نـور وپېژنـي ، لـه همـدې املـه امـام شـافعي خـو پـه ټولـو مسـلمانانو د عربـي ژبـې زده کـړه پـه دومـره انـدازه کـې فـرض ګڼـي چـې یـو مسـلمان پـرې د خپـل دیـن فرایـض وپېژنـي او عمـل پـرې وکـړي او زرکشـي پـه البحـر المحیـط کـې د امـام مـاوردي څخـه رانقلـوي چـې د عربـي ژبـې زده کـړه پـه مجتهـد او غیـر مجتهـد مسـلمان فـرض ده .

**څلورم شرط:**

مجتهـد او ترجیـح ورکوونکـي تـه دا اړینـه ده چـې پـه قـرآن او سـنتو کـې چـې څومـره ناسـخ او منسـوخ احـکام راغلـي دي، هغـه ټـول ورتـه معلـوم وي ترڅـو منسـوخ حکـم تـه ترجیـح ورنـه کـړي، لـه همـدې املـه حضـرت علـي یـوه ورځ لـه یـوه قاضـي څخـه وپوښـتل چـې آیـا ناسـخ او منسـوخ درتـه معلـوم دي؟ هغـه ورتـه وویـل چـې راتـه نـه دي معلـوم، حضـرت علـي وفرمایـل، ځـان دې هـم هـلاک کـړ او نـور هـم .

**پنځم شرط:**

د مجتهـد او ترجیـح ورکوونکـي لپـاره بـل شـرط دا دی چـې هغـه بایـد پـه قیـاس د قیـاس پـه شـرایطو او ارکانـو ښـه علـم ولـري، ځکـه چـې د اجتهـاد اصلـي او لـه ټولـو سـتره سـاحه همـدا ده او همـدې ځایـه پـه شـریعت کـې ځانګـړي احـکام راویسـتل کېـدای شـي.

**شپږم شرط:**

مجتهـد تـه دا ضـروري ده چـې د راویانـو پـه قـوت او ضعـف، او داحادیثـو پـه اړه چـې د صحـت او ضعـف او یـا قبـول او رد کـوم قواعـد او ضوابـط دي ، هغـه ورتـه پـه ښـه شـان معلـوم وي او د احادیثـو علتونـه وپېژنـي ، پـه دې اړه ورتـه د علمـاوو اقـوال او نظریـات معلـوم وي.

امـام غزالـي د پورتنیـو شـپږو شـرطونو برسـېره وایـي چـې مجتهـد بایـد عـادل، متقـي او پرهیـزګاره انسـان وي تـر څـو پـر فتـوا او ترجیـح یـې اعتمـاد او بـاور وشـي.

**یادونه:**

ډېـر خلـک داسـې فکـر کـوي چـې اختـلاف او د اختـلاف اسـباب یـوازې فقهـاوو رامنـځ تـه کـړي او کـه چېـرې لـه دوي ځـان خـلاص کـړو او د محدثینـو پسـې ولاړ شـو، نـو د اختـلاف ټغـر بـه ټـول شـي، خـو دغـه تصـور پـه حقیقـت کـې د بـې علمـۍ او جهالـت زېږنـده ده، ځکـه څومـره چـې د فقهـاوو ترمنـځ د قیـاس او یـا نـورو دلایلـو پـه اړه اختـلاف راغلـی دی، هومـره بلکـې لـه هغـې زیـات اختـلاف د محدثینـو ترمنـځ د احادیثـو پـه تصحیـح او تضعیـف کـې شـته او پـه دې اړه یـو شـمېر زیـات قواعـد اختلافـي دي، او لـه دې هـم پورتـه خبـره دا ده چـې د فقهـاوو ترمنـځ د اختـلاف یـو لامـل پـه حقیقـت کـې د همدغـو محدثینـو اختـلاف دی.

دا هـم د یادولـو وړ ده چـې هېڅکلـه دغـه اختـلاف پـه نصوصـو د بـې بـاورۍ معنـی نـه ورکـوي، بلکـې د شـریعت روح د دغـه اختـلاف ګنجایـش لـري او همدغـه اختـلاف دی، چـې اسـلامي شـریعت تـه یـې پایښـت وربښـلی او د قیامـت تـر ورځـې پـه بېلابېلـو سـیمو کـې د تطبیـق وړتیـا یـې پـه کـې پیـدا کـړې ده .

دوهم رکن: د ترجیح محل او ځای:

ترجیـح یـوازې پـه ظنـي دلایلـو کـې راتـلای شـي، هغـه چـې یـا پـه ثبـوت کـې ظنـي وي او یـا هـم پـه خپلـه معنـی بانـدې پـه دلالـت کـې یـې بېلابېـل احتمـالات موجـود وي، لـه دې املـه د اصولـو علمـاوو پـه څرګنـدو ټکـو ویلي، چـې پـه قطعـي دلایلـو کـې چـې هـم یـې ثبـوت قطعـي وي او هـم یـې پـه خپلـه معنـی دلالـت قطعـي وي ترجیـح نـه شـي کېـدای.

امـام غزالـي وایـي: پـوه شـه چـې ترجیـح پـه ظنـي دلایلـو کـې ممکنـه ده چـې ظنـي امـور سـره پـه قـوت او ضعـف کـې متفاوت کېـدای شـي او د دوه معلومـو (قطعـي) دلایلـو تـر منـځ یـې تصـور نـه شـي کېـدای.

همـدا ډول د یـو قطعـي او بـل ظنـي دلیـل تـر منـځ هـم ترجیـح نـه شـي کېـدای، امـام تـاج الدیـن السـبکي وایـي: ( د دوه قطعـي دلایلـو تـر منـځ تعـارض نـه شـي راتلـی ځکـه چـې بیـا بـه د دواړو مقتضـا ثابتـه شـي پـه داسـې حـال کـې چـې دواړه سـره یـو د بـل ضـد او نقیضیـن دي « او اجتمـاع د نقیضینـو ممکنـه نـه ده » او نـه هـم د یـو قطعـي او بـل ظنـي تـر منـځ تعـارض ممکـن دی ، ځکـه چـې کلـه قطعـي دلیـل راشـي نـو ظـن پـه خپلـه لـه منځـه ځـي، لـه دې املـه تعـارض یـوازې د دوه ظنـي دلایلـو تـر منـځ راتلـی شـي.

امـام الحرمیـن الجوینـي پـه دې اړه فرمایـي: کلـه چـې د ترجیـح اصـل ثابـت شـي نـو بیـا پـه قطعـي مـواردو کـې یـې د اسـتعمال اړتیـا نشـته او کـه یـو متکلـم پـه قطعـي دلیـل کـې د ترجیـح صیغـه اسـتعمال کـړي نـو دا یـې د غبـاوت او غفلـت نښـه ده.

بیـا وروسـته د ترجیـح د عملیـې د حقیقـت د بیـان پـه اړه وایـي: ترجیحـات پـه حقیقـت کـې د ظنـي دلایلـو پـه اړه تغلیبـي احکام « دمجتهـد پـه ذهـن کـې یـو پـر بـل پـه ظنـي توګـه غـوره ګڼـل » دي چـې د ا پـه قطعیاتـو کـې نـه شـي راتلـی.

لـه دې املـه څرګنـده شـوه چـې ترجیـح پـه لانـدې دلایلـو کـې راتلـی شـي.

الـف: هغـه آیتونـه چـې د زیاتـو معناګانـو احتمـال پـه کـې موجود وي، ځکـه چـې دلتـه اګـر کـه آیتونـه پـه ثبـوت کـې قطعـي دي، خـو د معنـی او دلالـت پـه لحـاظ ظنـي دي، لـه همـدې املـه مـوږ د آیتونـو پـه تفسـیر کـې بېلابېـل ترجیحـات د تفاسـیرو پـه کتابونـو کـې مونـدلی شـو، البتـه پـه داسـې نصوصـو کـې د ترجیـح لپـاره ځانګـړې لارې چـارې دي.

ب: هغـه احادیـث چـې پـه متواتـره توګـه مـوږ تـه رانقـل شـوي وي، خـو پـه معنـی کـې یـې احتمـالات موجـود وي.

ج: هغـه احادیـث چـې د خبـر واحـد پـه توګـه مـوږ تـه رانقـل شـوي وي، چـې دلتـه لـه یـوه اړخـه یـې ثبـوت ظنـي او اختلافـي دی او لـه بلـه پلـوه پـه زیـات شـمېر احادیثـو کـې د دې احتمـال هـم شـته چـې پـه دلالـت کـې د متعـددو معناګانـو احتمـال موجـود وي.

د: قیـاس او یـا د شـریعت نـور اختلافـي دلایـل چـې دا پـه خپلـه ظنـي او اجتهـادي امـور دي.

درېیم رکن: ترجیح ورکوونکی دلیل:

دا هغـه دلیـل دی چـې د دوه متعارضـو دلیلونـو پـه منـځ کـې ځانګـړی قـوت او فضیلـت ولـري، چـې پـه مجـازي توګـه ورتـه مرجـح یـا ترجیـح ورکوونکـی هـم ویلـی شـو، ځکـه چـې اصلي ترجیـح ورکوونکـی خـو مجتهـد وي او بـس.

د یادونـې وړ ده چـې دغـه ترجیـح ورکوونکـي دلایـل پـه خپـل ذات کـې اختلافـي او اجتهـادي دي لـه دې املـه پـه زیـات شـمېر مـواردو کـې ګـورو چـې یـو مجتهـد یـو دلیـل تـه پـه داسـې توګـه ترجیـح ورکـوي چـې بـل یـې ورسـره نـه منـي، داهغـه قواعـد دي چـې مجتهـدو امامانـو او فقهـاوو ایښـي، چې یـا خـو د عربـي ژبـې قواعـدو تـه راجـع کېـږي او یـا هـم لـه نصوصـو سـره د رسـول اللـه صلـی اللـه علیـه وسـلم او اصحابـو د تعامـل د اسـتقراء او پلټنـې پـه نتیجـه کـې رامنـځ تـه شـوي دي. او بـل پلـو تـه د ترجیـح د دلایلـو پـه ترتیـب کـې هـم ځانګـړې بحـث شـته چـې امامانـو پـه دې اړه هـم سـره اختـلاف کـړی، چـې دا ټـول اسـباب د فقهـي اختلافاتـو اسـاس تشـکیلوي، لـه دې املـه د فقهـي مذاهبـو اختلافـات هغـه د ترجیـح د دلایلـو پـه چوکاټ کـې خلاصـه کېـږي، دغـه اختلافـات هېڅکلـه هـم د قـرآن او سـنتو سـره د اختـلاف پـه معنـی نـه ده چـې کـه څـوک یوځانګړي فهـم ونـه منـي، هغـه لـه قـرآن او سـنتو خـارج وګڼـل شـي.

# انواع جنگ فکری

قسمت اول / محمد عمر عمری

**سکولاریسم**

قبـلاً در معرفـی جنـگ فکـری بـه ایـن موضـوع اشـاره شـد کـه جنـگ فکـری در هـر عصـر و زمانـی شـکل تـازه و نـو بـه خـود می‌گیـرد.

انـواع جنـگ فکـری بـه اسـاس اینکـه در هـر کشـوری چقـدر تأثیـر داشـته اسـت مراحـل تکامـل مختلفـی داشـته اسـت.

تمام انواع جنگ فکری هنوز وجود دارند.

یکـی از نمونه‌هـای جنـگ فکـری نظریـه‌ی سکولاریسـم و ضـد دیـن اسـت.

سکولاریسـم زمانـی در اروپـا شـکل گرفـت کـه اربـاب علـم در برابـر قدرتمنـدان کلیسـا و نظریه‌هـای خرافاتـی شـان عاجـز ماندنـد و راهـی ندیدنـد جـز اینکـه بی‌دینـی را اختیـار کننـد. هـر نظریـه‌ای علمـی کـه متناقـض بـا احکام کلیسـا ثابـت می‌شـد کلیسـا در مقابـل آن می‌ایسـتاد، صاحبـان آن اندیشـه را کافـر می‌گفـت و حکـم قتـل شـان را صـادر می‌کـرد. ایـن رویـه رفتـه رفتـه هـرج مـرج بـه وجـود آورد و مـردم عـام را واداشـت تـا مقابـل کلیسـا قـد علـم کننـد و بـرای همیشـه دسـت کلیسـا را از کشـتار دانشـمندان کوتـاه کننـد.

مسـیحیت و یهودیـت بـه دلیـل اینکـه منسـوخ شـده از جانـب الله متعـال هسـتند و بـرای زمـان خاصـی نـازل شـده بودنـد قابلیـت سـازگاری بـا روح زمانـه را ندارنـد.

در زندگـی امـروز مسـیحی‌ها و یهودی‌هـا دیـن هیـچ جایگاهـی نـدارد. دیـن بـه گوشـه‌ای خزیـده اسـت کـه هـر زمـان فقـط بـرای دعـا و نیایـش بـه سـراغ آن می‌روند امـا دیگـر کاری بـه دیـن ندارنـد. و بـه دلیـل اینکـه ایـن ادیـان تحریـف شـده‌اند و هـر زمـان علمـای شـان طبـق خواسـت و سـلیقهٔ خـود دسـت‌درازی‌هایی در دیـن خـود کرده‌انـد، دیگـر آن قدسـیت و آن للهیـت را ندارنـد. ایـن اسـت کـه با زمـان سـازگاری نـدارد و مـردم نمی‌تواننـد نیازهـای خـود را بـا آن ادیـان بـرآورده کننـد.

ایـن از خشـکی و بی‌روحـی دیـن مسـیحیت و یهودیـت اسـت. مسـیحت و یهودیـت در بهتریـن حالـت فقـط بـه چنـد دعـا و تعلیـم خلاصـه می‌شـود.

در مقابـل اسـلام بـرای شـعبه‌های مختلـف زندگـی یـک انسـان احـکام و هدایـات دارد؛ از نوشـیدن آب گرفتـه تـا رهبـری یـک کشـور و ارتبـاط بـا جهـان.

اسـلام نـه تنهـا بـا علـم سـر دشـمنی نـدارد بلکـه اولیـن آیـات نـازل شـده از جانـب الله متعـال بـر حضـرت محمـد صلـی الله علیـه وسـلم بیانگـر ایـن اسـت که اسـلام پیـروان خـود را بـه فراگیـری علـم تشـویق می‌کنـد.

فلاسـفه در جـواب ایـن سـؤال کـه چطـور می‌شـود یـک امـت امـی و ناخـوان پیشـرو علـم و تمـدن بشـری شـود عاجـز ماندنـد تـا اینکـه جـواب خـود را در آیـات اولیـهٔ سـورهٔ اقرأ یافتند.

امـا دشـمنان دیـن اسـلام کـه همیشـه از هـر فرصتـی بـرای ضربـه زدن بـه اسـلام اسـتفاده می‌کننـد خواسـتند از طریـق سکولاریسـم نیـز بـه اسـلام ضربـه بزننـد لـذا شـروع کردند بـه تبلیغـات علیـه اسـلام: اینکـه دیـن بـا سیاسـت در تضـاد اسـت و دیـن جـواب گـوی نیازهـای بشـری در ایـن زمـان نیسـت و فـلان و فـلان.

مسـلمان‌هایی هـم کـه درک درسـتی از اسـلام نداشـتند نیز بـه دلیـل اینکـه نتوانسـتند فـرق دیـن مسـیحیت و اسـلام را بفهمنـد بـه دام داعیـان سکولاریسـم افتادند.

سـخنان امـر الله صالـح را بـه یـاد آوریـد کـه اقتصاد اسـلامی را یـک کلمـهٔ وهمـی، خیالـی و غیـر واقعـی خوانـده بود. چرا؟ چون هیچ معلومات درستی از اسلام نداشت.

داعیـان سکولاریسـم بـا تمـام تـوان خـود سـعی دارنـد ایـن دسـت‌آورد (سکولاریسـم) خـود را بـه مسـلمانان نیـز تحمیـل کننـد.

بـه هیـچ وجـه مـن الوجـوه نیـز حاضـر نیسـتند بپذیرنـد که در اسـلام جدایـی دیـن از سیاسـت وجـود نـدارد.

سکولاریسـم سـاخته و پرداختـهٔ انسـان غربـی اسـت کـه مسـلمان‌ها بـه هیـچ عنـوان حاضـر نیسـتند احـکام الله متعـال را راهـا کننـد و قوانیـن سـاختگی آن‌هـا را بپذیرنـد.

در اسلام نمی‌توان هیچ کاری را از دین جدا دانست.

دیـن بـدون سیاسـت و سیاسـت بـدون دیـن در اسـلام هیچ معنایـی نـدارد.

دین تمام مراحل زندگی یک مسلمان را شامل می‌شود.

دشـمنان اسـلام بـه زعـم خـود خواسـتند از ایـن طریـق اسـلام را از میـان بردارنـد امـا نمی‌داننـد کـه انعطاف‌پذیری دیـن اسـلام و سـازگاری آن بـا شـرایط زمانـه، جاودانگـی اسـلام را تضمیـن کـرده اسـت.

الله متعـال در قـرآن عظیم‌الشـان حفاظـت از دیـن اسـلام را خـود عهده‌دار شـده اسـت.

می‌فرمایـد: انـا نحـن نزلناالذکـر و انـا لـه لحافظـون. ترجمـه: مـا قـرآن را نـازل کردیـم و مـا از آن حفاظـت می‌کنیـم.

# خوارج له صدر اسلام څخه، بیا د نن تر دواعشو

خلورمه برخه / عبدالرحمن محمود




د دوارو فریقینو پر محاکمه، صلحه اتفاق او د خوارجو وارخطایي او ظهور

د دوارو ډلو تر منځ اتفاق وشو چې هره ډله به له خپل لوري یو سړی انتخابوي، بیا چې دوی پر کوم شي اتفاق وکړ هغه به دوارو ته د منلو وي، سرغړونه به نه ترې کوي، حضرت علي رض د خپل جهته ابوموسیٰ اشعري رض وټاکه، حضرت معاویه رض عمرو بن العاص وټاکه، ځای او وخت د غونډې یې د روژې مبارکې میاشتې ۳۷ هـ ج کال او «دوحة الجندل» نومي ځای منتخب کړ.

لنډه دا چې دوارو ډلو پر دې فیصله وکړه چې جنګ به درېږي او هره ډله به خپل ځای ته ځي، حضرت علي رض به په کوفه کې د خلیفه المسلمین په حیث پاتې کېږي او حضرت معاویه رض به پر شام أمر پاتې کېږي تر څو دواړه حکمین او فیصله کوونکي د دې ستونزې د حل لپاره یوه اتفاق ته سره ورسېږي.

د حضرت عثمان رض قاتلین پوه شول چې دواړه طرفین یوې سولې ته رسېدونکي دي او د دوی دا یقین و که سوله وشوه دوی به وژل کېږي، نو لومړی یې کوښښ وکړ چې د سولې جریان متوقف کړي، مګر ونه توانېدل، بالاخره یې د (الحکم لله) مقوله جوړه کړه او د حضرت علي رض یې بغاوت وکړ او د دوارو ډلو پر وړاندې یې سنګر ونیو، بیا دا کسان حروراء نومي ځای ته ولاړل.

حضرت علي رض د خپل لښکر د مشرانو قوماندانانو سره مشوره وکړه، فیصله یې پر دې وشوه چې دوی به جنګ ته نه ور وځي تر څو چې هغوی جنګ نوي پیل کړی، حضرت عبدالله بن عباس رض د خوارجو معسکر ته ورغی او قصد یې و، چې دوی بېرته اسلام ته را رد کړي، عبدالله بن عباس رض وتوانېد، چې زرګونه کسان له بغاوته را وګرځوي، مګر د شپږ زرو شاوخوا خوارج پر هماغه ګمراهۍ کې پاتې شول.

خوارجو د حضرت علي رض په غیاب کې په خپلو تحرکاتو شروع وکړه، په دې وخت کې خوارجو ملعونینو جلیل القدر صحابي عبدالله بن خباب بن الارت او د هغه حامله مېرمن او درې نورې ښځې چې د طيء له قبیلې وې په شهادت ورسول.

حضرت علي رض چې کله پر واقعه خبر شو فیصله یې وکړه چې پیل به په همدې خوارجو کوي، حضرت علي رض له خپل لښکر سره د خوارجو پر طرف ور روان شو، نهروان نومي ځای ته ورسېد، خو مخکې له دې چې له خوارجو سره جنګ شروع کړي حضرت علي رض خوارجو ته حال ولېږه تر څو د عبدالله بن خباب قاتلین په لاس ورکړي، هغوی ظالمانو ورته وویل چې موږ ټول ملګري ستاسو د ټولو وینه حلاله بولو، وژنو مو (کټ مټ لکه د نن ورځې د داعشي خوارجو منطق)

بیا حضرت قیس بن سعد رض کوښښ وکړ چې د وعظ او نصیحت له لارې یې له بغاوته راوګرځوي مګر هېڅ نتیجه یې ورنه کړه، کله چې حضرت علي رض نا أمیده شو نو د جهاد بیرغ یې حضرت ابا ایوب انصاري رض ته ورکړ، بیا هغه په لوړ أواز ږغ وکړ که هرڅوک تر دې بیرغ لاندې راشي ودرېږي هغه په امن کې دی، که څوک له جنګه پر شا شي هغه امن دی، که څوک کوفې ته ننوځي هغه امن دی، په دې اعلان سره ډېر له جنګه پر شا شول، مګر د دوی مشر «عبدالله بن وهب الراسبي» له شپاړس سوه خوارجو سره پاتې شو، خلاصه په ۳۸ کال د هـ ج کې د حضرت علي رض او د خوارجو تر منځ جنګ شروع شو، خوارجو ډېره سخته ماتې وخوړه، فقط یو څو کسان یې پاتې شول هغه هم و تښتېدل، نور ټول ووژل شول، بیا د څه وخت وروسته همدې پاتې خوارجو دریو کسانو ته دنده ورکړه چې حضرت علي رض او حضرت معاویه رض او حضرت عمرو بن العاص رض په شهادت ورسوي...

د خوارجو پر لاس د مبشر بالجنة، بدري صحابي، حضرت علي المرتضی رضي الله عنه شهادت...

نور بیا

# حصار مو مات کړی؛ نور دې نړۍ او نړیوال سازمانونه ترې وځي!!

جبریل سعد

د الله تعالی بې شمېره شکرونه چې د جهاد او مبارزې عبادت ته یې خوښ کړو، په کې ځینې قربانۍ یې هم را په برخه کړې، مرحومي مورجانې پسې یې د جهاد پالنې له لارې کور ته دغه نېکمرغي راوړه او امید دی هغه نړۍ یې پرې ودانه کړه چې په کې برخلیک یې په دې نړۍ هېچا ته نه مالومېږي او پر ما هم الله تعالی خپل پرېمانه پېرزویني او بیا غیرت وکړ... د مورجانې له وفات او ورسره جوخت د اسلامي امارت له راتګ سره مو شخصي ژوند د سیاسي غچ اخیستنې کټ مټ لکه د امریکایي کافرانو تر ښکاره پلمو لاندې پټو موقفونو ښکار شو. د نشنلیستې ډلې غرې مخالفین په ښکاره ډول پر شخصي حریم را ننوتل، په خپل حصار کې یې واخیست، یواځې همدلته یې هغه کانې وکړې چې او امریکایانو د ګران هېواد په حریم کې کړې وې، خو د مجاهد حریم لکه چې الله تعالی د نورو لس برابره لوړ کړی؛ همغسې یې ساتي هم او ډېر غیرت پرې کوي، نو پر یو څه قربانیو مو هماغسې لکه امریکایان او نړیوال کفار چې له افغانستانه ووتل؛ له رسواۍ پرته د هېڅ پر ترلاسه کولو له حریمه ووتل او حصار یې مات شو، خو کټ، مټ لکه امریکا چې مو د هېواد شتمنې کنګل کړې او د رسمیت پېژندنې مخه یې نیسي؛ نشنلیستو مخالفینو هم تر اوسه ټول حقه حقونه ګرځولي، پر اصالت مو د پېژندنې مخه نیسي، یقین وکړئ همدغه لنډ جریان دی، چې مقدمه اوږده نه شي؛ یوه سیکولره ډله که په خپل جوړښت کې هرڅومره وره هم وي؛ د نفوذ ساحه یې د بشپړ غرب یو کوچنی، خو پوره او پاک،ستره انځور پر لاس راکولی شي او پر وړاندې یې څو کسیز مقاومت هم د افغانانو او اسلامي امارت د جهاد او مبارزې یو کوچنی انځور ښودلی شي.

د نوي، نړدې دوه کلن راتلونکي افغانستان+اسلامي امارت پر مختګونو د څمکنیو واقعیتونو شاهدۍ سترګې نه شي پټېدی، د هېواد او نظام پر تړاو غولوونکي اټکلونه پوچ او ترې وړاندې سزاګانې یې خندونکي ډرامې ختلې، هغه ټول اټکلونه،وړاندوینې،سپارښتنې چې له اسلامي امارت سره له تعامل پرته د نړۍ پر بلې لارې نه لرلو را څرخي؛ رښتیا شوې او د عملي کېدو وخت یې راغلی، په پالیسیو او سیاستونو کې په شرعي لارښوونو ولاړ دریځ او هوډ څخه د اسلامي امارت نه شاته کېدو باندې ګرده نړۍ پوخ باور لري، له ځینو هېوادونو،نړۍ،نړیوالو سازمانونو د اسلامي امارت غوښتنې او پوښتنې د ملګرو ملتونو د منشور له مخې هم پر ځای او څواب غوښتونکي ثابتې شوې، د ملګرو ملتونو سازمان مرستیالې آغلې آمنه محمد لخوا د رسمیت پېژندنې موضوع را منځته شوې، چې پر نړیواله کچه د تبصرو ترخنګ یې موافق او مخالف دواړه ډوله احساسات تر بل هر وخت زیات دي، وروسته ترکي مسلمان فریدون سینیرلي اوغلو هم تازه د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د ارزونې ځانګړي مأموریت د همغږۍ د استازي په توګه ټاکل شوی او د ارزونې او ورسره د هېوادونو د تعامل څرنګوالي باندې د بحث لومړنۍ او د ملګرو ملتونو یواځینۍ له هیلو ډکه غونډه ده چې لومړی یې د ترسره کېدو لپاره دوحه غوره شوې او بیا یې په درشل یاد سازمان یو ورته مهم پرېکړه لیک هم صادر کړي.

دا او ډېر نور دا ډول دلایل ټول هیله ښونکي دي چې دغه غونډه به د رسمیت پېژندنې په ګډون د افغانستان لپاره هغه ټول زېري، پیغامونه او لاسته راوړنې له ځان سره ولري، چې د ملګرو ملتونو رول په کې مهم دی، له دغې غونډې تمه کېږي او د ګڼو هېوادونو استازو او د افغانستان ژمنو فعالانو ته پرې سرخلاصي اړینه ده، ترڅو پر اړوندو او همدلته شته ټولو واقعیتونو د پرېیستې ګرد او غبار ځادر یې پر وړاندې پورته شوی وي، په ټولو ذي ربطه مسئلو کې هغوی هم د اسلامي امارت له قاطع دریځه ننګه وکړي، پر وړاندې پرتې ننګونې درك او بیا په ښه توګه خپلو هېوادونو او ټولنو ته د استازولۍ د دغه درونډ پېټي په رسولو هغوی د یادو ننګونو له منځه ورلو ته را وبولي. د افغانستان ثبات، ځمکنۍ بشپړتیا او ورته نور ټکي چې ځینې یې ملګرو ملتونو په خپل وروستي پرېکړه لیک کې یاد کړي او د افغانستان ثبات، ملي یووالی او خپلواکي تضمینوي؛ د سیمې او ټولو هېوادونو په ګټه دي، کار پوهانو پرې بیا بیا ټینګار هم کړی او تر هغه چې څو جګړه مارو هېوادونو د خپلو ګټو لپاره د ګران هېواد حریم په خپل واك اخیستی و؛ دا هرڅه یې ترې تروړلي او له افغانانو سره د مرستې ټول سازمانونه، ټولنې او درکونه یې په خپل حصار کې ساتلي وو چې ورسره ټوله نړۍ هم نا امنه او بې ثباته وه، خو چې د الله ج په نصرت او د غیور او مجاهد ولس د سرښندنو په برکت له جګړه مارو خپلې ګټې همدلته پاتې او هغوی تېښتې ته اړ شول، ورسره یې یاد حصار هم بشپړ مات او پر هېواد او نړۍ ثبات او امن را وغوړېد، خو لا هم د دوحې له ترونه په پرله پسې سرغړونو، د هېواد شتمنۍ ګرځولو، فشارونو او بندیزونو زیاتولو، د رسمیت پېژندنې مخنیوي او له نورو استخباراتي او تبلیغاتي لارو زموږ هېواد او سیمه کې ګډوډیو ته لمن وهل کېږي او هغه وضعیت یې زېږنده ده چې د دوحې راتلونکې غونډه کې به ارزول کېږي او پرې به بحث کېږي، نو اوس چې حصار مو مات کړی؛ نور دې نړۍ او نړیوال سازمانونه ترې وځي او چې یواځې همدغه نېکي یې ومني؛ هم د افغانستان او اسلامي امارت په تړاو یې باید نظر، ارزونې او بحث هغسې نه وي لکه چې د یادو څو جګړه مارو هېوادونو په مات شوي حصار کې چې به ترسره کېدل، بلکې د دلته او په سیمه او نړۍ شته واقعیتونو له بشپړ درك وروسته باید د هغو د رښتینولۍ پر بنسټ ولاړ وي، ترڅو په ټولو برخو کې د هېواد، سیمې او نړۍ هغه بې ساري نوښتیز پرمختګونه چې له لسیزو راهیسې ترې زموږ ګران هېواد بې برخې شوی او پر نړۍ یې هم سیوری غوړولی و او اوس یې په ډېره کمه موده کې بیا څرګونه لیدل کېږي؛ تضمین کړي چې دا یواځې په هغه صورت کې شوني ده چې نړۍ او نړیوال سازمانونه د یادو څو جګړه مارو هېوادونو له مات حصاره ووځي، له خپلو پرېکړو، پالیسیو،سیاستونو یې لاس لنډ کړي او د افغانستان پر تړاو خپله بې طرفي وساتي.

# فکري خپلواکي څه شی ده؟

مولوي نورالحق مظهري

**فکري خپلواکي:**

فکري استقلال دې ته وایي چې یو څوک د فکر په کولو او تصمیم نیولو کې خپلواک وي او د هر شي په اړه ځان ته مستقل فکر لري، په دې معنی سره چې په اراده او تصمیم کې تزلزل او وسوسه نه لري او د هر چا پسې نه روانېږي بلکې په هره موضوع کې ځان ته آزاد او پوره فکر لري البته په شرعي چوکاټ کې د ننه.

**د فکري خپلواکۍ ځینې ګټې:**

فکري استقلال هغه لوی نعمت دی چې الله تعالی یې هر چا ته ورکړي نو یقیناً چې هغه ته یې ډېر خیر او عظیم فضیلت ورکړی دی.

څوک چې فکري استقلال ولري یقیناً چې هغه د فرد او ټولنې لپاره د مهمو ګټورو نظرونو پر لټولو او وړاندې کولو تخلیقي قدرت او ورتیا لري او د هغه څه په وړاندې چې د ده پر شا اوخوا پېښېږي منطقي خپلواک دریځ غوره کولای شي.

څوک چې فکري خپلواکي ولري هغه هېڅ وخت د بل چا د منفي فکر تابع نه جوړېږي ځکه نو ته په خپلواک فکر د نورو سره مبارزه کولای شي او هغوی ته ماتې ورکولای شي.

د فکري خپلواکۍ فلسفه دا ده چې هېڅوک ستاسو د فکر په څېر کار نه شي کولای او نه هم بل څوک په تمامه معنی ستاسې نماینده ګي کولای شي ځکه نو ته باید فکري خپلواکي ولري تر څو په هر ځای او هره فیصله کې خپل استقلال په ثبوت ورسوي.

څوک چې فکري خپلواکي ولري هغه د انفرادي مفکورې د جوړولو، د نورو پسې له تللو د ځان د آزادۍ، په رڼدو سترګو له ساده تقلیده د ځان ساتنې او د سختو کارونو د کولو استعداد پیدا کوي.

فکري استقلالیت په انسان کې داسې قوت پیدا کوي چې پر مټ یې صحیح کلتور اختیارولای شي، تحقیق کولای شي، رغنده تنقید کولای او منلای شي او په ټولو معناوو د خپلواکۍ په هنر ځان ښایسته کولای شي چې په نتیجه کې فکري شتمني او هر اړخیزه نېکمرغي لاس ته راوړلای شي.

فکري خپلواکي فرد ته دا ورتیا هم ورکوي چې د واقعیت په اړه بحث وکړي او د واقعیت سره ټول تکر شیان رد کړي، ترڅو په کړنو کې یې د منفي پایلو مخنیوی وشي او ټول هغه شیان دفع شي چې د ده په چاپېریال کې د واقعیت په زیان وي.

فرد د فکري خپلواکۍ په مرسته د ګڼو نظرونو او لیدلورو څخه حقیقت او واقعیت را ایستلای شي او ښه له بده جلال کولای شي همداسې ځان د نورو له منفي نفوذه خوندي کولای شي ځکه نو د خپلواک او مستقل فکر والا انسانه هېڅوک په خپله ګټه ناوړه استفاده نه شي کولای او نه یې هم د نورو انسانان پر ضد کارولای شي خو د دې پر عکس څوک چې مستقل فکر نه لري هغه تل د تزلزل په حالت کې وي او په هره خبره کې په هر چا پسې روان وي او همزمان د یوه شي په اړه د مثبت او منفي دواړو فکرونه کوي ځکه چې دوو جدا نفرو ورته معرفي کړې وي یوه د مثبت په نوم او بل د منفي په نوم، له بده مرغه چې دی خپله هم د تمییز او تفکیک فکر نه لري.

فکري خپلواکي فرد، ملتونه او ولسونه د انحصار، تسلط او غلامۍ خلاصوي او د پرمختګ او ځلېدلو لوري ته یې سوق کوي.

**ولې هر فرد فکري خپلواکي غواړي؟**

خپلواکي د کائناتو له پیدایښته د انسان فطرت دی چې په درلودلو یې ځان ته داسې چاپېریال برابروي چې خپل حاضر ژوند او راتلونکی کنټرول کړي او د صحي رضایت مرحلې ته ځان ورسوي.

فکري خپلواکي له پولو او وېرې پرته فکر کول او د خلاقیت او تخلیقي افکارو خلاصول دي البته د مسلمان لپاره د دیني اصولو په چوکاټ کې د ننه.

فکري خپلواک انسان خپله آزادي ساتي او په هره موضوع کې بېله دې چې له نورو متأثر شي خپل نظر په مستقله توګه داسې ورکوي چې د ده نظر د ده استازیتوب کوي او د بل هیچا د استیازیتوب ښکارندویي نه ورڅخه کېږي.

فکري خپلواك ځکه په هره مبارزه کې بریالی وي چې په ځان باور لري او تل د خپل فکر په استعمال کې صادقانه زیار باسي.

فکري خپلواکي له عزم او ارادې پرته نه راځي همداسې هڅو، تجربو، د احساساتو کنټرول او له خلکو سره تعامل ته اړتیا لري.

**څنګه د فکري خپلواکۍ خاوند کېدلای شي؟**

۱ - په ځان باور ولرئ ځکه چې په ځان باور د بریالیتوب لومړی راز دی البته په ځان د باور معنی دا نده چې تاسې نو د نورو انسانانو سره مشوره مکوئ، بلکې معنی یې دا ده چې د ځان څخه بې موقف مه جوړوئ چې هر څوک یوه خبره درته وکړي تاسې یې بس ورسره منئ.

۲ - مثبت و اوسئ، خپل منفي په مثبتو بدل کړئ او د خلکو له منفي نظرونو مه متاثره کېږئ ځکه چې له نورو تأثر ستاسو په ذهني فعالیت بده اغېزه کوي.

۳ - صبر وکړئ ځکه صبر د ټولو مبتکرینو او متفکرینو ځانګړنه ده او ښکلي مثبت شیان وخت ته اړتیا لري او صبر د پیغمبرانو او رسولانو خصلت دی.

۴ - په کار کولو کې ډېر کوښښ وکړئ ځکه په استقامت، جدیت، لېوالتیا، ارادې او هوډ سره هغه څه چې تاسو یې غواړئ لاس ته راوړلای شي او په دې باندې پوه شئ چې هېڅ شی پر آسانۍ سره لاس ته نه راځي.

۵ - خپل فکر تېز کړئ، په هره مسئله کې چې تاسو ورسره مخ کېږئ منطق وکاروئ او د هغو پخوانیو باورونو د ردولو لپاره کار وکړئ چې ستاسو د مثبت منطق او فکر سره تضاد لري.

۶ - خپلو افکارو ته په ډېر غور سره پاملرنه وکړئ، ممکن تاسې په خپل ژوند کې ډېر فکرونه ووهئ خو هر فکر مو باید د غور او تحقیقه ډک وي تر څو د شعوري تېروتنې او انحرافه وساتل شي.

۷ - د منل شویو متفکرو اشخاصو فکرونه پر ځان را ټول کړئ او د دوی لاره تعقیب کړئ او تر ټولو مهمه خبره دا ده چې پر ځان هغه خلک راټول کړئ چې ستاسو د ننه عظمتویني، ستاسو پر وړتیاوو باور لري او ستاسو د هڅولو لپاره کار کوي.

۸ - په دې باندې باور ولرئ چې ټول کارونه مو کېږي ځکه باطني عقل ستاسو په بریا کې خورا لوی رول لري او تاسو کولای شئ ټول شیان ځانونو ته په خپله را جلب کړئ او دا په یاد ولرئ چې یو یا څو ځله له خپلې ناکامۍ مه مأیوسه کېږئ ځکه چې په هر شي کې پایلې ته اعتبار شته.

## شعر او ادب

## غزل

**حضرت بیدل (رح)**

خواه غفلت پیشگی کن خواه آگاهی گزین
ای عـدم فرصت دو روزی هر چه می‌خواهی‌گزین
ذره تا خورشـید امکان‌گرم از خود رفتن است
یکقدم با هر چه جوشـد شوق همراهی‌گزین
هر قدر غفلت فزونتر لاف هسـتی بیشتر
ای طلسـم خواب ازین افسانه کوتاهی گزین
چند در آتش نشـانندت به افسون غرور
اختصار ناز چون شمع سحرگاهی‌گزین
دستگاه مشت خاک ناتوان پیداست چیست
ای غبارت رفته بر باد آسـمان جاهی گزین
هیچکس خود را نمی‌خواهد غبارآلود عجز
ای گدا گر اختیاری باشـدت شاهی گزین
پرتو شمع هدایت درکمین غفلت است
خضر اگر زبن دشـت مطلوبست‌گمراهی گزین
جاه اگر بالد همین شاهی‌سـت اوج عبرتش
ازکمال فقر باش آگه هواللهی‌گزین
هر دو عالم شـوخی پست و بلند ناز اوست
گر نگه قاصر نباشـد ماه تا ماهی گزین
در تماشاگاه هستی کور نتوان زبستن
محرم آن جلوه شـو یا مرگ ناگاهی گزین
اعتبار اندیشه‌ای بیدل ندامت ساز کن
شـمع محفل بودن آسان نیست جانکاهی گزین

## دوبیتی‌های حماسی

**فیض‌الدین «لشکری»**

به ملک ماعزیزان کافر آمد
همان دزدان ناتو لشکر آمد
مجاهد میشوم درسنگری حق
که آن شیطان سری ما رهبر آمد

.............

به سنگر میروم کفران به جنگ است
به دستم عزت و غیرت تفنگ است
به کشور آمده دشمن فراوان
به قتل کافران من پشت سنگ است

.............

غلامان گشته با رهبر فراری
که ناتو درجهان شد بی وقاری
زدست شیر مردان وطن باد
که بخشیده به دشمن شرمساری

.............

مجاهد رزم و پیکارت مبارک
پیام حق به افکارت مبارک
بنازم غیرتت را مرد دیندار
به آزادی چو ایثارت مبارک

# سړي او سړیتوب

**حسان مجاهد**

نن یوه داسې ستونزه چې اسلامي نړۍ ورسره مخ ده؛ هغه دا چې سړي ډېر دي، خو په واقعي توګه د سړیتوب له صفاتو برخمن سړي کم تر سترګو کېږي.

سړیتوب د الله تعالی یو ستر نعمت او احسان دی. الله تعالی په قرآنکریم کې دهغه مسلمان خبره د احسان په توګه یاده کړې، چې خپل کافر ملګري ته وایي(( ایا ته په هغه رب کفر کوې چې لومړی یې له خاورې، بیا له نطفې پیدا کړې او بیا یې سړی جوړ کړې؟!))(سورة کهف۳۷)

سړیتوب څکه غوره صفت دی، چې الله تعالی خپل خاص استازي انبیاء(ع) سړي رالېږلي وو. الله تعالی وایي: ژباړه(( موږ تر تا وړاندې(انبیاء)یوازې سړي رالېږلي وو چې موږ به ورته وحیې کوله))(سورة یوسف ۱۰۹)

سړیتوب یو شمېر صفات او ځانګړتیاوې لري چې پرته له هغوی په چا کې سړیتوب نه پوره کېږي. ډېر داسې کسان شته چې شکل یې د سړي وي خو د سړیتوب له صفاتو بې برخې وي، دوی باید لاندې صفات په ځان کې وګوري چې ایا رښتیا هم واقعي سړي دي، که هسې د سړو په څېر؟

**۱- سړي؛ د مسجدونو خاوندان**

الله تعالی محمد ﷺ ته د ځینو سړو صفت کوي او دغه سړي چېرته په بازارونو، د لهولعب په مرکزونو او په داسې فارغو محفلونو کې نه وو چې څوک د سړیتوب له صفاتو په کې بې برخې کېږي؛ بلکې دغه سړي د مسجد قبا اوسېدونکي وو. ژباړه: (( په دې مسجد کې داسې سړي شته چې پاکې خوښوي(مسجد ته د عبادت لپاره پاک راځي) او د الله تعالی پاکونکي خلک خوښ دي)) (سورة توبه۱۰۸)

دا شان الله تعالی د نورو سړو داسې صفت کوي: ژباړه: (( په مسجدونو کې داسې سړي چې سهار او ماښام د رب پاکي بیانوي او داسې سړي چې تجارت یې له لمانځه او زکاته نه شي غافل کولای)) (سورة نور ۳۶-۳۷)

**ځینې سلف وایي:** دغه سړو چې به د پلورلو او پیرلو پر مهال اذان واورېدو؛ نو سمدستي به یې تله له لاسه وغورځوله او مسجد ته به یې مخه کړه. نن ورځ ډېر داسې کسان وینو چې د دنیوي مشاغلو له امله مسجد نه پېژني او له عبادت سره هېڅ ډول علاقه نه لري او د قرآن له مخې دغه د سړیتوب صفت نه ده.

**۲- سړي؛ په دین ثابت وي**

د سړیتوب بل صفت په دین او الهي منهج عمل او استقامت دی، الله تعالی د ځینو سړو داسې صفت کوي: ژباړه : (( له مؤمنانو څخه ځینې سړي له الله تعالی سره په کړې وعده کې رښتیني شو( په دین یې عمل وکړ، هېڅ ډول شهواتو او شبهاتو را ونه ګرځول) او بیا د همدغه دین لپاره شهیدان شول او ځینې نور لا اوس هم ( تر هغه وخته چې الله تعالی یې په ښه انجام روحونه قبض کړي) انتظار باسي او په هېڅ ډول نه دي بدل شوي (له دین څخه د مخ اړولو او بې باورۍ اراده نه لري)(سورة احزاب ۲۳)

نن چې کومو کسانو ددنیا لپاره دین ته شا کړې ده، د دنیا لپاره له مرګه کرکه لري، په دین استقامت نه لري او په فکري او عملي توګه له خپل دینه منحرف شوي دي؛ د سړیتوب له صفته بې برخې دي.

**۳_ سړي به د رسولانو همکاران وي**

کله چې د موسی (علیه السلام) په خلاف دښمنانو د مرګ کومه دسیسه جوړه کړه نو یو سړی ورته دښار له پایه په بیړه راغی او ورته وایي (( ای موسی! د قوم مشرانو ستا د مرګ مشوره او پرېکړه کړې ده؛ نو ته ووزه، زه ستا لپاره له خیر غوښتونکو څخه یم )) (سورة قصص ۲۰)

ابن کثیر رح لیکلي: الله تعالی د موسی(ع) دغه همکار ځکه په سړیتوب یاد کړ، چې دی له هغې لارې نه چې طاغوتي فرعونیان د موسی(ع) د وژنې لپاره راتله؛ په بله لنډه لاره راغی او موسی(ع) یې وژغورل.

الله تعالی د یو بل سړي داسې صفت کوي (( د ښار له پایه یو سړی په منډه منډه راغی او خپل قوم ته یې وویل: ای قومه د رسولانو اتباع وکړئ!(سورة یس)

مفتي شفیع رح لیکلي: دغه د حبیب نجار په نامه سړی لومړی بت پرست و، بیا یې توبه ویستله او چېرې لرې یې په یو غار کې عبادت پیل کړ، خو کله چې رسولانو ته د خپل قوم له خوا په زیان رسولو خبر شو؛ نو د قوم د هلاکت وېره ورسره پیدا شوه، سمدستي راغی او دعوت یې پیل کړ (معارف القرآن)

د رسولانو همکاري او د هغوی په تګلاره (دعوت) کې هڅه کول؛ سړیتوب دی. نن که انبیاء(ع) نشته؛ د انبیاوو د وارثینو (علماوو) همکاري د سړیتوب یو غوره صفت بلل کېږي.

**۴- سړي به د سختۍ پر مهال نه وارخطا کېږي**

په مسلمانانو د ژوند په اوږدو کې ډول ډول کړاوونه راځي، د حق پر مخ وړاندې لارې بندې شي، حق او باطل وړاندې ګډ شي، د اسلامي شعائرو پوره اختیار نه لري، په ستونزو او فتنو کې ښکېل شي، دغه وخت کې نو مسلمانان دې ته نړدې وي، چې له خپل شریعته مخ واړوي ( العیاذ بالله) خو د سړیتوب صفت دا دی چې په هېڅ صورت کې له خپل دریځه په شا نه شي او د هر ډول فتنو او باطلو عقیدو پر وړاندې د حق په دفاع کې د غره په څېر ټینګ ولاړ وي.

موسی(ع) چې بني اسرائیلو ته له کفارو سره د جنګ کولو، د مقدسې ځمکې د آزادولو امر وکړ او ورسره یې دالله تعالی له لوري د نصرت وعده وکړه؛ نو بني اسرائیلو وویل(( ته او خپل رب له کفارو سره جګړې ته لاړ شئ موږ به دلته کېنو)). (سورة مائده۲٤)

نور خلک په شا شول، موسی(ع) په دې ستونزمن حال کې د دښمنانو په مخ کې له خپل ورور هارون(ع) سره یوازې پاتې شو، اوس نو داسې کسانو ته اړتیا پیدا شوه، چې خلک د نبي(ع) همکاري، د دښمنانو مقابلې او د مقابلې په ډګر استقامت ته را وبولي، د دښمنانو پر خلاف یې روحیه قوي کړي، د الله تعالی په نصرت د خلکو باور پیاوړی کړي؛ هغه و چې دوه سړي پورته شول او ویې ویل(( کفارو ته د دروازې له لارې ور داخل شئ، له داخلېدو سره به تاسو برلاسه شئ، په الله تعالی توکل وکړئ که رښتیني مؤمنان یئ!(سورة مائده۲۳)

په نن زمانه کې موږ داسې سړو ته اړتیا لرو، چې د باطل پر وړاندې غږ پورته کړي او د حق پلوو ملتیا وکړي او د سړیتوب او بهادرۍ کردار په ښه توګه انجام کړي.

**۵- هغه سړي چې عمر فاروق (رض) یې تمنا کړې وه**

عمر فاروق(رض) یوه ورځ له خپلو ناستو ملګرو وپوښتل: تاسې د څه شي خواهش لرئ؟ دوی هر یوه په خپل نوبت د یو نیک عمل خواهش وکړ. په پای کې عمر(رض) وویل (( زه خواهش لرم چې کاشکي دغه حجره د أبو عبیده بن جراح(رض) په څېر له سړیو ډکه وای!

هوکې! سړیتوب یوازې فزیکي، ښایسته او قوي وجود نه، بلکې سړیتوب په دین استقامت، عبادت، دعوت، د رسولانو او علماوو معاونیت او له حقه دفاع او د باطل مخالفت دی.

نن د سړیتوب په صفاتو ښکلو سړو ته اړتیا لرو، نن اسلام خپلو پلویانو ته داسې هاتفي اواز کوي لکه لوط(ع)چې به خپلو امتیانو ته کاوه ((ایا په تاسو کې یو(رشید) سړی نشته؟))(سورة هود ۷۸) یعنې داسې سړي چې په خپل ځان، أهل او ټولنه کې شریعت عملي کړي، خلکو ته په نیکۍ امر کوي او له بدو یې منعه کوي. الله تعالی دې اسلامي نړۍ له رښتینیو سړیو برخمنه وګرځوي.

# دین پېژندنه

**یونس روهي**

کله چې انسان خپل ځان وپېژني، خوی خواص یې ور معلوم او بیا خپلې اړتیاوې پوره ورته څرګندې شي،نو د خپل څښتن په لور سفر او هڅه پیل کړي، د څېړنې په ترڅ کې د خپل مالک ډېر صفات ورته ښکاره او روښانه شي او بیا هغه پړاو ته ورسېږي چې ښه نو اوس خپل دغه مالک او څښتن ته په کومه لاره ورشم او ګودر به څرنګه پیدا کړم او د لارې نښې نښانې به څوک راته وښیي؟ بالکل د همدغو پوښتنو ځواب ته «دین» ویل کېږي. په بل عبارت «دین» د هغې لارې بشپړه نقشه ده چې دغه لاروی تر خپل مالکه رسولای شي. په دې کې د زړه ا نګېرنې یعنې احساسات، جذبات، وېره، هیله، درناوی، اعتماد، بروسه او ټول سره فزیکي چارې، ژوند او د ژوند ټول کړه وړه، غم ښادي،سوله او جګړه، خپلوي او پالنې، سیاست، مدنیت، ګټه وټه، پاچایي او حکومت مطلب هرڅه او هر اړخ شامل دي.

د همدغې کاملې نقشې نوم اسلامي دین او شریعت دی،چې په تمامه معنی جامع، کامل او شامل قانون دی. دا هماغه نقشه او قانون دی چې لوی څښتن د همدغه نظام د سم چلېدلو، غوړېدلو او بریالي کېدو لپاره په یوازې ډول ټاکلی او خوښ کړی دی. یعنې خپله د همدې کائناتو خالق او پالونکي وضع کړی او صرف همدغه قانون کې یې د نظام بشپړه کامیابي ایښې ده. له همدې امله ا نسان ته لازمه ده چې دا نقشه په کامله توګه وپېژني او د ژوند په هر ډګر کې یې د عملي کېدو هڅه هاند وکړي. باید سړی په دې پوه شي چې دا دین لکه د نړۍ نورو ادیانو او مذاهبو غوندې څو محدودو مراسمو نوم نه دی چې یا صرف د یکشنبې په ورځ چېرته کلیسا کې ترسره شي یا د کوم اورتون خواته څو ټاکلي حرکات په کې اجراء کړای شي بلکې د اسلامي دین له یوې داسې عقیدې نه عبارت دی چې د زړه مکمله صفایي په کې وشي یعنې د زړه په تل کې د الله تعالی توحید خوندي شي، له هغه سره مینه او اخلاص، له هغه نه وېرېدل، له همده نه هیله کول او د همدې الله تعالی د مخلوق په وړاندې مناسب او صفانیت درلودل، پر هغوی ځان غوره نه ګڼل، حسد نه کول او له هر ډول ځان ښودنې زړه صفا کول له بلې خوا په عملي ژوندانه کې ورو غټو ګردو چارو لپاره په همدې قانون کې څه لاره او طریقه کتل. تردې چې تن دوډۍ خوړل، ویده کېدل، خبرې کول، د کورنې ژوند ژواک هر ډول چارې، ناسته، ملاسته، مجلس ګپ شپ، غوسه، نانډرۍ، ټوکې ټکالې تر اودس ماتې کولو. د دې هرڅه لپاره په دې قانون کې لازمې لارښوونې په نظر کې نیول او د عملي کول هڅه یې کول. همدارنګه حکومت، سیاست، اقتصاد او ګرد ټولنیز رواجونه د همدغه دین له اصولو سره سم چلول، او همدا د اسلام دین بلل کېږي. دا هم یو حقیقت دی چې اسلامي دین کې هېڅکله تقسیم او تجزیه نه شي کېدای. په دې معنی چې نیم منل او څه نه منل هېڅ کارنه ور کوي، الله تعالی په خپل کلام کې وایي: « یعنې ایا د کتاب ځینې بره منئ او ځینې نه منئ؟» د داسې کار پایله خو ایله په دنیا کې شرمندګي او په آخرت کې سخته سزا کېدای شي او بس. لنډه دا چې دین یو جامع او شامل نظام دی چې د ژوند هېڅ وړه او غټه معامله ترې بهرنه ده او بل دا چې دین هېڅکله نه نیمېږي او که څوک یې نیم کړي نو هغه دین نه شو او الله عزوجل یې بالکل نه قبلوي.

## کورنی رسنۍ هم له دولتي ...

دی درولی بلکې؛ د پخوا په پرتله د رســنیو شمېر زیات شــوی او د یاد ریاست او خبریالانو تر منځ پوره همغږي موجــوده ده. په همدې حال کې مــلا خیرالله خیرخواه ژمنه وکړه چې د خبریالانو ســتونزو ته به د هېواد په کچه رســېدنه کېږي او د غزني د اطلاعاتو او کلتور ریاســت به د خبریالانو دوهم کــور وي. خیرخواه زیاته کړه، چې رسنۍ په یو ټولنه کې د پله حیثیت لري او اسلامي امارت هڅه کوي څو د کورنیو رســنیو لپاره، له داخلي بودیجې داسې یو طرز العمل جوړ کړي چې دوی هم له حکومتي امتیازاتو څخه برخمن شــي. د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرســت وویل، چې آمریکا او غربــي هېوادونه هڅه کوي د افغانستان منفی انځور نړیوالو ته وښیي، خو دغه رسنۍ کولای شي چې د هغوی د منفي تبلیغاتو په ځواب کې د افغانستان د رښتینی انځور په خپرولو سره ورکړي.

د یــو بل خبــر له مخــی، د اطلاعاتو او کلتــور وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه، غزني ته د خپل سفر په ترڅ کې د یاد ولایــت له والي حافظ محمد امین عمري سره وکتل.

د دغه کتنې پیل کې حافظ محمد امین عمري د اطلاعاتو او کلتور وزارت سرپرست ملا خیرالله خیرخواه ته د ښه راغلاست ترڅنګ خوښي وښوده، چې یاد ولایت ته یې د تاریخي آبداتو د ســاتنې او رغونې او دغه راز د کلتوري او رسنیز فعالیت ارزونې په موخه سفر کړی دی.

ورته مهال ملا خیرالله خیرخواه په خپلو خبرو کې غزني د تمدن او فرهنګ کور وبالــه او د غزني تاریخ او تمدن ساتنه یې د یاد وزارت مسوولیت یاد کړ.

نوموړي همدراز زیاته کــړه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت پلان کې لري چــې د افغان ولس د جهادي ارزښــتونو ســاتنې په موخه په مرکز او ولایتونــو کې موزیمونه جوړ کړي، چــې په کې د تېرو دریو جهادونو شــهکارۍ او د اتلانــو کارنامې په تصویــري، ویډیویــي او صوتي بڼه وساتل شي.

## په کندز کې د ساري ناروغیو ...

درملنه هم ترســره کېږي. په ورته مهــال د عامې روغتیا وزارت استازي سید رسول منګل باختر آژانس ته په خبرو کــې د دغه روغتون د پرانیســتلو مبارکۍ ترڅنګ وویل، چې نــږدې راتلونکي کې به د عامې روغتیا ریاســت په حوزوي روغتــون کې د لب تراســکوپي، دیکاردیورس سورجري، کټ‌لب، ارتروســکوپي، ایندویورولوژي، د ماشــومانو اورتوپیدي، او همداراز د لابراتوار او پتالوژۍ په برخو کې د پام وړ مثبت بدلون راشي.

پای کې د ســاري دغه ۵۰ بســتریز روغتون د ګډونوالو لخوا د پټې په پرېکولو سره په رسمي توګه پرانیستل شو.

## تېره اوونۍ د وسپنې پټلۍ له لارې ...

۱۱۲ زره ۵۹۷ مټریک ټنه توکي لېږدول شــوي دي. په یادو توکو کې ۹۳۸ ټنه توکي صادر شــوي دي. د افغانستان د وسپنې پټلۍ ملي اداره وايي دوی د هرې ورځې په تېرېدو د خپلو چارو د لا پراختیا او ښه والي لپاره هڅه کوي او موخه یې دا ده چې د هېواد ســوداګرو ته ټول اړین امکانات برابر کړي او معیاري چوپړتیاوې وړاندې کړي.

## نړیوال دې له اسلامي امارت سره ...

سترو قدرتونو د لوبې ډګر ګرځېدلی دی، موږ د افغانستان له خلکو ســره د پخوانیو تېروتنو په نــه تکرارولو مکلف یوو. زرداري یو ځل بیا ادعا وکړه، چې په افغانســتان کې د ناامنیــو د رامنځته کیدو له پایلو تر هر چا ډېر پاکســتان زیــات زیانمنېږي. نوموړي د دې په څرګندولو ســره چې نړیواله ټولنه باید د امنیتي اندېښنو د له منځه وړلو لپاره کار وکړي، زیاته کړه: یو سوله ییز او باثباته افغانستان نه یوازې د سیمه ییزې انسجام او اقتصادي همکارۍ، بلکې د نړیوالې سولې او ثبات لپاره هم مهم دی.

## د پکتیا کې اوسېدونکو ته د څښاک ...

ډول بشــپړې شوې، چې په کې د یوې ژورې څاه کیندل، دوه د اوبو زېرمې، ۱۶ لمریزې برېښنا تختې او ۹۷ نل لیکو نصبول شامل دي، چې پرمټ یې ۲۵۰ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي.

د یادونې وړ ده، چې د تېر ۱۴۰۱ کال راهسې تر دې دمه د څښاک اوبو ۱۲ شبکې جوړې شوې دي.

## د زابل ولایت خلکو ستونزو ته ...

ولســوالیو قومــي مشــرانو خپلې ســتونزې د اوبو او انرژۍ وزارت له سرپرســت سره شــریکې کړې او په خپلو ولســوالیو کې یې د څښاک اوبو او برېښنا انرژۍ د برابرولو غوښتنه وکړه.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرســت یادو مشرانو ته ډاډ ورکــړ، چې زابل ولایت په تېــرو کلونو کې له هر ډول پراختیایــي پروژو څخه بې برخې وو، خو اوس د اوبو او انرژۍ وزارت په کاري لومړیتوبونو کې ځای لري.

منصور زیاته کړه، چې دغه وزارت د شــته امکاناتو په پــام کې نیولو ســره هڅه کوي، چــې د زابل ولایت د خلکو ستونزو ته رسیدګي وکړي.

## د چارو په پلي کولو کې رښتینولي او ...

سرپرست همدارنګه د دې پروژو د پلي کوونکو مسؤلینو کړنې و ســتایلې او دوی ته یې په چارو کې د بریا غوښتنه وکــړه او زیاتــه یې کړه، چــې د چارو په پلــي کولو کې رښــتینولي او اخلاص ته د خپلو کارونو په لومړیتوبونو کې ځای ورکړي.

## بناهای تاریخی غزنی...

از بناهای تاریخی غزنی که نیاز به ترمیم و مرمت دارد، از سوی این وزارت ترمیم ومرمت شود.

ملاخیر خیرخواه ، بناهای تاریخی افغانســتان را ســرمایه های معنوی، هویــت تاریخی و فرهنگ باشندگان کشور عنوان کرد و بر حفظ و نگهداری هر چه بهتر آن تاکید کردو نقش باشندگان کشور را در این عرصه مهم عنوان کرد.

پیش از این نیز بارها مسئولین ریاست اطلاعات و فرهنگ غزنی، از وضعیت بد یک شــمار ازبناهای تاریخــی این ولایت ابراز نگرانی کرده بودند و از رهبری این وزارت خواســتار توجه به این بنا ها شده بودند.

## وقوع توفان شدید در ...

توفان در برخی نقاط ســرپل، بــا تند باد خیلی شــدید همراه بوده است، تا حدی که توانایی دید شهروندان ، به ویژه رانندگان موتر را خیلی محدود ساخت و برای ساعتی، رفت و آمد را متوقف کرد.

تاکنون ازاحتمال آســیب های جانــی ومالی این توفان گزارشی در دست نیست.

یک منبع محلی ســرپل به خبرنگارمحلی آژانس باختر گفت که بررســی ها در بــاره ی کمک به آســیب دیدگان احتمالــی این توفان، آغازشــد است.

## بغلان کې تېره میاشت د ماشومانو نږدې ...

د یونیســف موسسې ته ورپېژندلي، چې د ٦ میاشتو لپاره به هره میاشت له ٥ تر ٤٠ زره افغانۍ مرسته کېږي.

پارسا زیاته کړه، چې دغه راز ۱۳ د زړه سوري په ناروغۍ اخته ماشومان د درملنې په موخه سرې میاشتې ریاست ته او دغه راز ۱۳ نور ماشــومان له ګاونډي هېواد څخه را اړول شوي مرستندویه موسســو ته ورپېژندل شوي او د کار زمینه هم ورته برابره شوې ده.

د نومــوړي پــه وینا، تېره میاشــت د دغــه ولایت پنځو ولسوالیو کې ۲۰۵ ماشومانو سره د خوراکي او روغتیایي کېټونو سره مرسته کړې ده.

# فرهنګي یرغل او پر وړاندې یې د مبارزې اړتیا

**ابوالیاس جهادوال**

افغانســتان په دې وروســتیو څو لســیزو کې د نظامي یرغلونو ترڅنګ له پراخو فرهنګي یرغلونو ســره هم مــخ و او دی چې منفي او ورانکاره اغېــزې یې تر مخامخ او پوځي یرغلونو هم ډېرې محسوســې دي ځکه چــې دغه چاره پر افکارو او اذهانو ډېــر منفي او اوږدمهاله اغېزې کوي چــې جبرانول یــې پراخو او هراړخیــزو هلو ځلو او د فکــري رغاونې بېلابېلو پروګرامونو ته اړتیا لري.

په اوســني وضعیت کې رســنۍ چې د نوې ټیکنالوژۍ پرمټ یې د کابو هر وګړي کور ته ځان رســولی، د بهرني فرهنګــي یرغل په برخه کې د پام وړ ونډه لري. دا له ټوله ییزو او ټولنیزو رســنیو څخه په پراخه کچه د اســتفادې پایله ده چې نن ورځ لوېدیځ یرغلګرو خپل وحشیانه فرهنګ د تمدن او مډرنیــزم په بڼه خلکو ته ور پېژندلــي او د مخالفو ملتونو په تېره بیا مســلمه امت اصل فرهنګ ترهګرۍ او وحشــت او دهشت ګڼي چې له بده مرغه دغه ذهنیت د ډېرو خلکو اذهان اشــباع کړي او له خپل اصلي او اســلامي فرهنګه یې لرې او پردي کړي دي.

د فرهنګــي او فکري یرغــل اغېزې دومــره ژورې او مخربې دي، چې د پوځي اشــغال له پای ته رسېدو وروســته هم تر کلونو پورې د خلکو په ذهنونو کې پاتې کېږي. افغانســتان هم یــو له هغو هېوادونو دی چې په تېرو څو لســیزو کــې د نظامي یرغلونو تر څنــګ د تېري کوونکیو له پراخــو فرهنګي او فکري یرغلونو ســره هم مــخ وو او په دې برخه کې په میلیاردونو ډالر لګول شــوي چې له امله یې ډېر افکار له دغو شــومو تبلیغاتو اغېزمن شوي دي. دغو تبلیغاتو ځینې اذهان د صلیبي یرغلګرو پــر پروپاګنــد او تبلیغاتو دومره بــاوري کړي چې هــر دروغ یې ورته رښتیا ښــکاري. د بېلګې په ډول څو ورځې وړاندې د پاکستاني‌الاصله امریکایي ډاکټر حســن عباس « د امریکایانو له وتلو وروسته افغانستان ته د طالبانو بیا راتګ» (The Return Of Taleban Afghanistan After The Americans ) پــه نوم کتاب کې له نامعلومو ســرچینو څخه په اســتفادې د اســلامي امارت پر ځینو مســئولینو یو لړ تورونه لګوي چــې د ځینو مغرضو او غولیدلو افغانانــو غبرګونونه یې راپارولي دي.

تېره ورځ په دفتر کې له همدې مســئلې ســره مخ شوم، زموږ یو همکار هــم وویل« یو چا راته وویل چې د حســن عباس په نوم یو پاکســتاني ډېر یــو مهم کتاب لیکلی او ډېــر واقعیتونه یې پکې راخیســتي». هغه ډېر لیواله و، چې دغه کتاب ترلاســه او مطالعه کړي. خو کله مې چې د لیکوال د شــخصیت، مخینې او د کتاب د ځینو بې بنســټه ادعاوو په اړه ورته معلومات وړاندې کړل. تر ډېره یې قناعت حاصل شــو .

که څه هم د اسلامي امارت ویاند ښاغلي ذبیح‌الله مجاهد هم د حسن عباس کتــاب ته د غبرګون په اړه خپله اعلامیه کې هغه یو اســتخباراتي مامور ګڼلی، د هغه له نیم ساعته مرکې چې له امریکا غږ آشنا ټلویزیون ســره یې کړې، ښکاري چې دغه شــیعه مذهبه اســتخباراتي مامور له اســلام دین، ســني مذهب او اسلامي نظام ســره کینه لري او د کتاب لیکلــو موخه هــم دا بیانوي څو نړۍ یوځل بیــا د ۲۰۰۱ کال په څېر د اســلامي امارت پر ضد ګډ دریځ نیولو ته وهڅوي.

دا یوازې د حســن عباس کتاب نه دی بلکې له دې وړاندې هم د وســله وال مقاومت، جهاد او افغاني ارزښــتونو د بدنامولو لپاره د احمد رشید او ځینو نورو اســتخباراتو کړیو له‌خوا دغه ډول مغرضانه هڅې شوي او د اجرې میډیــا له‌خوا یې په پراخه کچه انعکاس موندلی دی.

دا چــې لــه دې مخکې د نظامــي یرغلونو او په هېواد کې د لاســپوڅو رژیمونــو د اقتدار لــه امله د دې فرصــت نه و، مســاعد چې اړوندې ادارې، رســنۍ، علماء، ټولنیز مشــران او روڼاندې د پردیو د دغه ډول فکري او فرهنګي یرغل مخه ونیســي او نوي نسلونه په اسلامي روحیې ســره ســمبال کړي خو اوس چې لله الحمد د افغــان مجاهد ولس په سرښــندنو او قربانیو سره د اشغالګرو نظامي یرغل مات او په افغانستان کې اســلامي نظام حاکم شوی، نو دا د اســلامي نظام د مسوولو ادارو، لیکوالانو، رســنیو، علماوو، علمي مرکزونو او روزنیزو مؤسسو دنده ده چې د یو منظم پلان له مخې په نظامي ډګر کې مات شــویو اشــغالګرو د دغــه تبلیغاتي او فکري یرغل مخه ونیســي او له دې اړخه د زړو ټپونو په درملنې ســره پــه افغانانو په تېره بیا ځوان نســل کــې اصیل فرهنګ بېرته راژوندی کړی څو اســتخباراتي شبکو ته دا فرصت ورنکړي چې په راتلوونکي کې په دغه ډول مغرضانه هڅو ســره زموږ اذهان اشباع او د خپلو موخو لپاره ورنه ناوړه ګټه واخلي.

## قلم د بشریت ...

خطیبان له قلمه ډېره کمه اســتفاده کوي او ښــه پیاوړي شیوخ او مدرسین مو تقریباً بې ســواده دي. دا په داســې حال کې چې هر یو ښه پوهېږي چې لوی خدای د همدې قلم پرمټ انســان ته مختلف علــوم ور زده کړل، د روحاني کمالاتو ښــوونه په قلم او د پخوانیو په لیکلو اثارو کې راپاتې ده او ټوله مادي پرمختیا بیا هم د قلم پوروړې ده، راځئ دا ومنو چې اوسنۍ نړۍ کاملاً د قلم پرنوکه څرخېږي او ټولو واکمنو او ځواکمنو ســره یې هم همدغه د قلم توره ده چې موږ پرېښې او هغوی راخیســتې ده. موږ د همدې موقع په مناسبت او د همدې ورځپاڼې لــه لارې پر خپلو ګردو هېوادوالو، دیني علماوو او کورنۍ د قلم او لیک - لوست په ارزښت پوه کړئ، علم ته یې وهڅوئ او په هر ممکن صورت یې د جهالت له تورتم او بدمرغۍ نه وژغورئ.

## خوست کې د امنیتي کمرو نصبولو ...

د خوست ښار په څلور لارو او کوڅو کې د امنیتي کمرو نصبول د جرمونو په کمولو کې ځانګړې مرسته کوي.

هغــه وویل، چــې مجرمین نور نه شــي کولای چې خپلو شــومو اهدافو ته لاسرسی پیدا کړي.

قانت همدا راز زیاته کړه، چې د نړۍ د نورو هېوادونو تجربې ښــودلې، چې د امنیتي کمرو نصبول له ټولو اغېزمنه لار ده، چې د جرایمو مخنیوی کوي او د مجرمینو د تېښتې مخه نیســي او هم په جنایي جرمونو کې د پام وړ کموالی را منځته کوي.

دا په داســې حال کې ده چــې څو اوونۍ وړاندې د خوســت امنیه قوماندان په خوســت ښــار کې د ځینو مارکیټونو له خاوندانو غوښتي وو چې د امنیتي وضعیت د ښــه والــي لپاره پــه خپلو مارکیټونــو کې امنیتــي کمرې نصب کړي.

دغه راز امنیه قوماندان د خوســت له اوسېدونکو وغوښــتل چې د امنیت په تأمین کې له خپلو امنیتي ځواکونو سره همکاري وکړي.

## پاکستان برای بازسازی افغانستان با ...

و هماهنگــی با پاکســتان را در مورد افغانســتان تقویت کند و به طور مشــترک در روند بازســازی صلح‌آمیز افغانستان مشارکت کند.»

وزیر خارجه چین افزود: که بیجینگ می‌خواهد تا از طریق تلاش‌های مشترک، صلح و ثبات را در منطقه تضمین کند.

هنوز جزئیات بیشتری در مورد افزایش همکاری چین و پاکستان در بازسازی افغانستان نشر نشده است.

در همین حال قرار است مولوی امیرخان متقی، وزیر امور خارجه امارت اسلامی با وزرای خارجه چین و پاکستان هفته جاری دیدار کند.

## رفتار مسوولین باید منجر به ...

کــه مجاهــد قندهــار برتــری دارد. در اینجــا رهبــری وجود دارد. با عملکرد نیک شــما، مســوولین نیک شــمرده می‌شــوند. بــا عملکــرد ضعیف شــما، مردم نســبت بــه رهبــری بدگمان می‌شوند.»

این در حالی اســت که بیش از سیزده مقام حکومتی بر اساس فرمان تازه رهبر امارت اســلامی تعیین و تبدیل شــده اند که در این میان محمدعلی حنفی، مشــهور به ملا شیرین به عنوان والی قندهار تقرر یافته و در مراسمی به گونۀ رسمی معرفی و به کار آغاز کرد.

## پکتیا کې ۷ ګرځنده روغتیایي ټیمونو ...

چې د یادو ولســوالیو هغو ســیمو کې روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي، چې خلکو یې روغتیایي آسانتیاوو ته لاسرسی نه درلود.

د عزام په وینا دغه روغتیایي ټیمونه به د مور او ماشــوم تغذیې، واکسین او نورو ورته برخو کې خدمتونه وړاندې کــوي او په پام کې ده، چې راتلوونکي کې په ځایي ټیمونو بدل شي.

ورته مهال د ادا AADA مؤسسې ساحوي مسوول خان آغا میاخېل وایي، چې دغه ګرځنده ټیمونه به د مور او ماشوم لپاره روغتیایي برخه کې خدمتونه وړاندې کوي او هڅه کوي چې په نورو سپینو ساحو کې هم ورته روغتیایي ټیمونه جوړ او فعال کړي.

د عامــې روغتیا ریاســت د معلوماتو له مخې په دې ولایت کې تر اوســه ټول ۲۵ نــوي ګرځنده روغتیا ټیمونه جوړ او په فعالیت یې پیل کړی چې په بېلابېلو ولسوالیو او لرې پرتو سیمو کې خدمتونه وړاندې کوي.

Shariat
Daily

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
ويب سايت: WWW.shariatdaily.com

**شريعت**
د ليکوال هيئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئيس:
م محمد ابراهيم نبيل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤل مدير: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شريعت برېښنا ليک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنيو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزيع و شکايات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Sunday 07 May 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 175


وزارت حج و اوقاف:

# فريضه‌ی حج بدون دانستن مناسک آن درست ادا نمی‌شود




شـيخ‌الحديث دوکتور مولوی نـور محمد ثاقب سرپرسـت وزارت ارشـاد، حج و اوقاف، در اختتاميه مرحله دوم سمينار هفـت روزه تدريـب معلمين حجاج، بيان داشـته اسـت که فريضـه حـج بدون دانسـتن مناسک آن درست ادا نمی‌شود.
بـر اسـاس معلومـات دفتر مطبوعاتی وزارت ارشـاد، حج واوقـاف؛ مولوی نـور محمد ثاقـب از اشـتراک کننـدگان سـمينار خواسته اسـت که به ولايات و ولسـوالی‌های خود بروند و با ايجاد حلقات درسی، مناسـک حج را بـه حاجيان بياموزانند.
وی گفتـه اسـت: فريضه حج بدون دانستن مناسک آن درست ادا نمی‌شـود؛ بنابرايـن بالای کسـانی‌که حج فرض گرديده، علم حـج نيز فرض اسـت و اين هر دو به شـما محول شده است.

دافغانستان بانک:

# افغانۍ د سارک غړو هېوادونو په منځ کې با ثباته ده




د افغانسـتان بانک وايي چې د دې بانک استازو د سارک د مالي مرکزي بانکونـو د مشـرانو پـه ۴۳ غونډه کې، چې د پاکسـتان پـه پلازمېنې اسـلام‌آباد کې جوړه شوې، ګډون وکړ. د افغانستان بانک د څرګندونو له مخې، دغه غونډه د مې پر دويمه جوړه شـوې وه. په دې غونډه کې د ملي اقتصاد پر مهمـو برخو، مالي شـموليت، سـارک ډيتابېس، ورټيا لوړونـې، د غړيو هېوادونو تر منځ د اقتصادي څېړنو تر سـره کولو او يو شـمېر نورو مهمو اړوند موضوعاتو بحث وشو او په پايله کې جوته شوه، چې افغانۍ د اسـعارو پر وړاندې د سـارک غړو هېوادونو پـه منځ کې غوره ثبات لرونکی پولي واحد دی او همدارنګه افغانستان د انفلاسيون له باثباته نرخ څخه برخمن دی.

# اطلاعاتو او کلتور وزارت د کتابونو چمتو کولو او پېرلو پروژه داوطلبۍ ته وسپارله

اطلاعاتو او کلتور وزارت د دغه وزارت د عامه کتابتونونو رياست ته د اړتيا وړ ۱۰ زره ټوکـه کتابونو د چمتو کولو او پېرلو پروژه داوطلبۍ ته وسپارله.
دغه وزارت پـرون په يوه خبرپاڼه کې ليکلي چې ټولو مسـتحقو نوماندانو (کتاب خپرونکو، کتابتونونو او کتاب پلورونکـو) د دغې پروژې سـافټ شـرط پاڼه د دغـه وزارت د تدارکاتو له عمومي مديريت څخه ترلاسـه او خپل غوښـتنليکونه د تدارکاتو قانون او طرزالعمل سـره سم دې آمريت ته وسپاري.
په خبرپاڼه کې راغلـي، چې بانکي تضمين ۵۵ زره افغانۍ دی او نوماندان کولای شي خپل غوښتنليکونه د روان کال د غبرګولي مياشتې تر نهمې نېټې د سـهار تر لسو بجو پورې د تدارکاتو رياست ته وسپاري.
خبرپاڼه کې زياته شوې، چې بې وخته او آنلايـن وړانديزونه نه منل کېږي او هغه نوماندان چې پوښتنه ولري کولی شي د ضرب الاجل د سپارلو له نېټې ۷ ورځې مخکې پورته ذکر شوې ادارې ته مراجعه وکړي.

# د کورنيو چارو وزارت خبرتيا !

د شـخصي، بې اسـنادو او باقياتو لرونکو وسايطو مالکانو د پام وړ!
د افغانسـتان اسـلامي امـارت د کابينـې د پرېکړې پر بنسـټ او د اقتصادي او ټرانسپورتي کمېسيونونو له پرېکړو سـره سـم؛ د افغانستان لاس او ښي لاس ټول هغه وسايط، چې پـه ګمرکونو کې يـې د واحد کاري مرکـز لـه لارې ترافيکي او ټرانسپورتي اسناد نه وي اخيستي او هم د ناقانونه لاس ټول هغه وسايط، چې تراوسـه يـې د ۳۴ ولايتونو د ترافيکي چوپړتياوو په مرکزونو کې موقتي اسـناد نه وي اخيستي؛ خبر ورکـول کېږي، چې ژر تر ژره دې د سندونو د اخيستلو او قانوني پروسو د بشـپړولو لپاره يـادو مرکزونو ته مراجعه وکړي.
د نـه ورتګ په صـورت کې به يې د ټاکل شـوي کمېټې لـه لوري په ښارونو، لويو لارو، ترمينلونو، هډو او واټونو کې وسـايط درول کېږي، چې وروسـته بيا د شکايت حق نه لري.

ملاخيرالله خيرخواه:

# بناهای تاريخی غزنی مرمت می‌شود



سرپرسـت وزارت اطلاعات و فرهنگ از تلاش‌ها برای ترميم و مرمـت شـماری از بنا های تاريخی غزنی خبرداد.
ملاخيرالله خيرخواه ، در سفرش به غزنـی از شـماری بناهای تاريخی اين ولايت ديدن کرد.
سرپرسـت وزارت اطلاعات و فرهنگ در جريـان اين بازديد گفت که قرار اسـت درجريان همين سال ، شماری ... ص۵

# جلوگيری از قاچاق محموله‌ی چهارتراش به پاکستان

ازقاچـاق يک محمولـه ی چوب چهارتراش به پاکسـتان جلوگيری شد.
نيروهـای امنيتی هلمنـد ، ناوقت ديـروز، در مربوطـات ولسـوالی گرمسـير موفـق بـه کشـف اين محموله شـدند؛ درست زمانی که در راه انتقال به پاکستان بود.
يک منبع پوليـس هلمند به آژانس باختر گفت که دو تن را در پيوند به قاچاق اين محموله چوب بازداشت کرده اند.
پوليس هلمند در جريان نزديک به دو سال اخير، بارها مانع از قاچاق آهن، مواشـی و چوب به پاکستان شده است.

# «د چارو پلي کولو کې ړښتينولي او اخلاص وکړئ»



د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرسـت مـلا عبداللطيـف منصـور او مل تخنيکي ټيم د قرغې بند د سـاتنې او مراقبت بشـپړو شـويو پروژو له بېلابېلو برخو ليدنه وکړه.
منصـور د يادو پـروژو پلي کول د قرغې بنـد د سـاتنې او مراقبت او ځمکې لاندې اوبـو د تغذيې لپاره ګټور ګام وباله.
د اوبو او انرژۍ وزارت ... ۵مخ

# وقوع توفان شديد در سرپل

ولايت سـرپل ، روز گذشـته ، ناوقـت ديـروز، تقريبا تمام گواه توفان شديد بود. بخش های سرپل را فراگرفت.
به اساس گزارش ها، اين توفان گفته شده که اين ... ص۵



# کندز کې د پيازو حاصلات زيات شوي

د کندز د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رياست چارواکي په دغه ولايت کې د پيازو د حاصلاتـو له زياتوالي خبر ورکوي.
د دغه ولايت د کرنـې، اوبولګولو او مالدارۍ رييس مولوي امان‌الله حسن باختر آژانس ته وويل، چې سـږ کال د دغه ولايت بزګرانـو له هر جريب ځمکې څخه تر ۱٤ ټنـو پورې پياز راټول کړي، چې دا شمېره د تېر کال په پرتله څو برابره ډېروالی ښيي.
بل خوا د دغه ولايت کروندګر د پيازو د حاصلاتـو د زياتوالي لامل په دغه ولايت کې د اصلاح شـويو تخمونو کارول او پرله پسې بارانونه بولي.
دوی دغه راز بازار موندنې او سړو خونو جوړولو په برخه کې د اسلامي امارت څخه د مرستې غوښتنه کوي.

# هلمند کې ۹۳ ښوونځيو ودانۍ رغېږي

د هلمند د پوهنې رياست مسوولين وايـي، د روان کال په اوږدو کې به پـه‌دې ولايت کې ۹۳ ښوونځيو ته ودانۍ ورغوي. د دغو مسـوولينو پـه خبـره، واک ته د سرپرسـت حکومت له رسېدو راهيسې يې په هلمند کې ۳۲ ښـوونځي رغولي او دغـه بهير بـه دوام ولري. ورته مهـال، يو شـمېر زده‌کوونکي هم له سرپرسـت حکومتـه د دوی د ښـوونځيو د بيارغونـې غوښـتنه کوي، څو په ارامه فضا کې زده‌کړو ته دوام ورکـړي. د هلمند د پوهنې رياسـت د معلوماتو پر بنسـټ، اوس‌مهال پـه‌دې ولايت کې ۴۱۹ ښوونځي شـتون لري چې له دې منځـه ۲۳۴ ښـوونځي ودانـۍ نه‌لري.



# پکتيکا کې ٤ ښوونځيو ته ودانۍ جوړېږي

د پکتيکا د پوهنې رياسـت مسوولين وايـي، چې د دغه ولايـت په مرکز او دوو ولسواليو کې د سويډن موسسې له لوري د شـاوخوا ٦ مېليونه افغانيو په ارزښت څلورو ښوونځيو ته ودانۍ جوړېږي.
د دغـه ولايـت د پوهنې رياسـت مسـوولينو د باختر آژانس خبريال ته وويل، چې د دغو ښوونځيو له ډلې يې يوه په مرکز ښرنه، دوه په يوسف خېلو او يوه په ګومل ولسوالۍ کې جوړېږي، چې هره ودانۍ به څلور درسي خونې، د اوبو منظم سيستم او د والدينو شورا ۳۰ سـلنې په لرلو سـره د شاوخوا ٦ ميليونو افغانيو په لګښـت په پاخه او عصري بڼه جوړېږي.
د يادونـې وړ ده، چـې له بشـپړېدو وروسـته به، هر ښـوونځي ته ۱۳۵ نفـره د زده کـړو پـه موخـه جذب شي.



# بلخ کې د جنايي جرمونو په تور ۷ تنه نيول شوي

د بلخ د امنيې قومندانۍ مسـوولين وايـي، چې د دغه ولايـت په مرکز مزارشـريف، شور تپه، بلخ، شولګر او چهارکنت ولسـواليو کې ۷ تنه د جنايـي جرمونو په تور نيول شـوي دي. د دغه ولايت د امنيې قومندانۍ وياند محمد آصف وزيری د باختر آژانس خبريال ته وويل، چې په مرکز مزارشريف سـربېره، شور تپه، بلخ، شولګر او چهارکنت ولسواليو کې د جنايي جرمونو پر وړاندې د مبارزې مديريت پوليسـو په تېرو دوه ورځو کې ۷ تنه د غلا، اخلاقي فساد او قتل په تور نيولي دي.
وزيري زياته کړه، چې له نيول شويو کسانو سره دوه سـيټه مبايلونه او يوه اندازه نغدې پيسـې هم نيول شوي دي. د نوموړي په وينا، د نيول شويو کسـانو دوسـيې عدلي او قضايي ارګانونو ته سپارل شوي دي.

# پکتيا کې ۷ ګرځنده روغتيايي ټيمونو فعاليت پيل کړ

د پکتيـا د عامـې روغتيا رياسـت مسـوولين وايي، چې د مرکز ګرديز په ګډون زرمت، ډنډې پټان او وزي ځدراڼ ولسـواليو کـې ۷ ګرځنده روغتيايي ټيمونو په فعاليت پيل وکړ.
د دغه ولايـت د عامې روغتيا رئيس صدرالدين عـزام باختـر آژانس ته وويل، چې دغه ګرځنده ټيمونه د ادا AADA مؤسسې په مالي ملاتړ د ۳۵٦ زره او ٥١٤ امريکايي ډالرو په لګښت جوړ او تمويلېږي ... ۵مخ




# بغلان کې تېره مياشت د ماشومانو نږدې ۳۰۰ قضيو ته رسېدنه شوې



د بغـلان د کار او ټولنيـزو چـارو رياسـت مسـوولين وايـي، چې تېره مياشـت په دغه ولايت کې د ماشـومانو ۲٦۱ قضيو ته رسـېدنه شوې ده.
د دغه ولايت د کار او ټولنيزو چارو رييس قاري نصرت الله پارسـا د باختـر آژانس خبريال تـه وويل، چې په دغه قضيـو کې يې ۳۰ بې سرپرسته ماشومان ... ۵مخ